cerenade
P.O. Box 989728
West Sacramento, CA 95798-9728

د نوم لیکنې کوډ: <<XXXXXXXX>>
د نوم لیکنې د پای نېټه: 2م اپریل 2026

د نوم لیکنې لپاره، لاندې QR کوډ سکن کړئ:

Scan Me

یا دلته ورشئ:
https://response.idx.us/cerenade

<<نوم>><<تخلص>>
<<1 ادرس>><<2ادرس>>
<<ښار>><<ایالت>><<زیپ کوډ>>

ویب پاڼې ته د مراجعې یا د پورته QR کوډ د سکین کولو له لارې ددې لیکنې یوه نسخه په لاندې ژبو کې شتون لري: اسپانوي، دري، پښتو، روسي، عربي/فارسي

2م جنوری 2026

## د معلوماتو د سرغړونې خبرتیا

ګرانه <<نوم>><<تخلص>>،

سېرېناډ، چې یو سافټویر سیستم دی او ښايي تاسو پخوا د یوې حقوقي اداري لهخوا ورسره تعامل کړی وي، تاسو ته د یوې وروستۍ د معلوماتو د خوندیتوب پېښې اړوند خبر درکوي چې کېدای شي ستاسو شخصي معلومات یې اغېزمن کړي وي.

### څه پېښ شوي

د 2025 کال د اکتوبر په 2مه یا شاوخوا سېرېناډ ته د خپل سیستم دننه د مشکوک فعالیت په اړه خبر ورکړل شو. د مشکوک فعالیت په اړه پلټنه پیل شوه او سېرېناډ د احتیاطي تدابیرو په توګه خپل شبکه محدوده کړه، چې پکې د فایروال، زیربناوو او اپلیکېشن خوندي کول او د داخلي لاسرسي پالیسۍ تازه کول د نورو اقداماتو تر څنګ شامل وو. دا پېښه په کال 2025 د اکتوبر په 3مه نېټه حل شوه. هغه پلټنه چې پکې عدلي تخنیکي پلټنه هم شامله وه، په دې وروستیو کې پای ته ورسېده. سېرېناډ مشخصه کړه چې د 2025 کال د اکتوبر له 2مې څخه تر 3مې پورې هغه محدود شمېر اسناد چې دې سیستم ته پورته شوي وو، تر برید لاندې راغلي او د یوه غیرمجاز شخص لخوا ډاونلوډ شوي دي. موږ اوس مهال د هر ډول معلوماتو د ناوړه کارولو څخه ناخبره یو.

### کوم معلومات شامل وو

په اسنادو کې هغه معلومات شامل وو چې نومونه، د زیږیدنې نیټې، سوشل سیکورټي شمېرې او پاسپورت شمېرې پکې شامل وې، په اوس مهال کې هیڅ کوم شواهد شتون نلري چې د کوم ډول معلومات د ناوړه کارونې وړاندېز کوي.

### موږ څه ترسره کوو

موږ د خپل وېب سرور په زیربناوو کې د معلوماتو د خوندیتوب د ښه کولو لپاره اضافي حفاظتي تدابیر پلي کړي دي. سربېره پردې، موږ د معلوماتو د سرغړونې او بیا رغونې د خدماتو له متخصص شرکت IDX له لارې د هویت د غلا د مخنیوي خدمتونه وړاندې کوو. د IDX د هویت د ساتنې خدمتونو کې لاندې شیان شامل دي: 12 په میاشتو د کریډیټ او CyberScan څارنه، د 1,000,000 ډالرو د بیمې د جبران پالیسي او د هویت د غلا د بشپړ مدیریت شویو بیا رغونې خدمتونه. که چیرې ستاسو هویت تر برید لاندې راشي ددې ساتنې له لارې به IDX تاسو سره مرسته وکړي.

### تاسو څه کولی شئ

موږ تاسو هڅوو چې 18337889712 شمېرې سره په اړیکه نیولو یا https://response.idx.us/cerenade یا د QR عکس سکین کولو او پورته ورکړل شوی د نوم لیکنې کوډ انځور کارولو له لارې د هر ډول پوښتنې لپاره له IDX سره اړیکه ونیسئ او د وړیا هویت د ساتنې خدمتونو لپاره نوم لیکنه وکړئ. د IDX کارکوونکي د ختيځ پر وخت له دوشنبې تر جمعې د سهار له 9 څخه د ماښام 9 بجو شتون لري. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د نوم لیکنې د پای نېټه د اپریل 2م 2026 ده.

یو ځل بیا، اوس مهال هیڅ کوم شواهد شتون نلري چې ستاسو له معلومات ناوړه ګټه اخیستل شوي ده. سربېره پردې، موږ تاسو هڅوو چې د خدماتو له دې وړاندېز څخه بشپړه ګټه پورته کړئ. د IDX استازو د پېښې په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړي او کولی شي ستاسو د شخصي معلوماتو د خوندیتوب په اړه ستاسو پوښتنو یا اندېښنو ته ځواب ووايي.

د نورو معلوماتو لپاره

تاسو به د نوم لیکنې لپاره تفصیلي لارښوونې په ضمیمه شوي د ‘‘سپارښتنه شوي ګامونو’’ سند کې ومومئ. سربېره پردې، کله چې تلیفون کوئ یا آنلاین نوم لیکنه کوئ، باید د دې لیک په سر کې ورکړل شوی د نوم لیکنې کوډ یادونه وکړئ، نو مهرباني وکړئ دا لیک مه لیرې کوئ.

مهرباني وکړئ د اضافي مرستې یا نورو پوښتنو لپاره د18337889712شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا https://response.idx.us/cerenade ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ. تاسو کولی شئ له ترینیټي برتن سره په لاندې پته او شمېرې اړیکه ونیسئ: 3106450598، 9800 S. La Cienega Blvd., Inglewood, CA 90301.

په درنښت،



سرېناډ

(ضمیمه)

ستاسو معلوماتو د خونديِ کولو د مرستې لپاره سپارښتنه شوي اقدامات

1. ویب پاڼه او نوم لیکنه.د QR کوډ سکین کول یا لاندې ویب پاڼې ته مراجعه کول https://response.idx.us/cerenade

2. د کریډیټ هغه څارنه فعاله کړئچې د ستاسو د IDX د هويت د ساتنې غړيتوب برخه ده. هغه څارنه چې د غړيتوب په برخه کې شامله ده باید فعاله شي ترڅو مؤثره وي. يادونه: د دې خدمت د کارولو لپاره باید تاسې د کریډیټ لرونکي اوسئ او کمپيوټر او انټرنيټ ته لاسرسی ولرئ. که چیرې تاسو مرستې ته اړتیا ولرئ، IDX به تاسو سره مرسته وکولی شي.

3. تليفون. د دې پېښې په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو او د خپل کريډيټ هويت د ساتنې لپاره د مناسب ګامونو په اړه د پوه استازو سره د خبرو کولو لپاره له IDX سره په 18337889712 اړيکه ونيسئ.

4. خپل دکریډیټ رآپور بیا وګورئ.موږ سپارښتنه کوو چې په خپلو حسابونو غور وکړئ او د کريډيټ راپورونه وڅارئ ترڅو محتاط پاتې شئ. د فدرالي قانون له مخې تاسو هر 12 مياشتې حق لرئ چې د درې لويو کريډيټ راپور ورکونکو شرکتونو څخه يو وړيا کريډيټ راپور ترلاسه کړئ. د وړيا کلنې راپور ترلاسه کولو لپاره دغه www.annualcreditreport.com ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ له 18773228228 شمېرې سره اړيکه ونيسئ. تاسو ممکن وغواړئ چې خپلې غوښتنې په وختونو وويشئ، څو هر څلور مياشتې وروسته د درېيو کريډيټ دفترونو د جملې له يو څخه وړيا راپور ترلاسه کړئ.

که تاسو کوم شکمن توکي پيدا کړئ او د IDX د پېژندنې د خونديتوب په پروسه کې نوم ليکنه کړې وي، سمدستي دوی ته د زنګ وهلو يا د IDX ويب پاڼې ته د ننوتو له لارې خبر ورکړئ او د مرستې غوښتنه وکړئ.

که تاسو مرسته وغواړئ يا د مشکوک فعاليت په اړه راپور ورکړئ، نو تاسو به زموږ د پېژندنې اړوند د پاملرنې د کاري ډلې له غړي سره اړيکه ونيسئ چې له تاسو سره به د شکمنو توکو د علت په ټاکلو کې مرسته وکړي. په احتمالي پېښه کې چې تاسو د دې پېښې په پايله کې د هويت غلا قرباني شئ، تاسو ته به د پېژندنې د پاملرنې متخصص وګومارل شي چې ستاسو په استازيتوب به کار وکړي ترڅو زيان ژر تر ژره پيداکړي، ويې دروي او حل يې کړي.

تاسو باید په دې هم پوه شئ چې که چيرې کله هم د هويت جعل کارۍ سره مخ شئ، تاسو حق لرئ چې پوليسو ته راپور ورکړئ. مهرباني وکړئ په پام کې ونيسئ چې د هويت د جعل کارۍ د جرم يا پېښې راپور د پوليسو يا قانوني ادارو ته د سپارلو لپاره تاسو به احتمالاً اړتيا ولرئ چې د دې ښکارندويي لپاره يو ډول ثبوت وړاندې کړئ چې څرګندوي چې تاسو قرباني شوي ياست. د جعلي توکو د حل لپاره ډيرې وخت پوليس راپور اړين وي. تاسو کولی شئ د هويت د غلا مشکوکې پېښې سيمه ايزو قانون پلي کوونکو ادارو يا سترې څارنوالۍ ته راپور ورکړئ.

5. د درېيو کريډيټ دفترونو سره د جعلي فعاليت خبرتياوې ثبت کړئ. که تاسو وغواړئ د جعلي فعاليت خبرتيا ثبت کړئ، موږ سپارښتنه کوو چې لومړی خپله د کريډيټ څارنه فعاله کړئ. تاسو کولی شئ د درې لويو کريډيټ دفترونو له جملې د يو سره د تليفون له لارې او همدارنګه د Experian يا Equifax ويب پاڼې له لارې د جعلي فعاليت خبرتيا ثبت کړئ. د جعلي فعاليت خبرتيا کريډيټرانو ته وايي چې د ځينو ځانګړو کړنلارو پيروي وکړي، په شمول ددې چې تاسو سره اړيکې ټينګې کړي، مخکې له دې چې دوی نوي حسابونه پرانيزي يا ستاسو موجوده حسابونه بدل کړي. د همدې دليل لپاره د جعلي فعاليت خبرتيا ثبتول کولی شي تاسو خوندي وساتي، خو همدارنګه ممکن ستاسو د کريډيټ ترلاسه کولو هڅې ځنډنۍ کړي. د درې لويو دفترنو د اړيکې معلومات په لاندې ډول دي:

د کريډيټ دفتر

د Equifax د جعلي فعاليت راپور ورکولو شمېره:
18663495191
O. Box 105069
Atlanta, GA 30348-5069
www.equifax.com

د Experian د جعلي فعاليت راپور ورکولو شمېره:
18883973742
O. Box 9554
Allen, TX 75013
www.experian.com

TransUnion جعلي فعاليت راپور
18006807289
P.O. Box 2000
Chester, PA 19022-2000
www.transunion.com

دا اړينه ده چې يوازې د دغو دفترونو له ډلې يو سره اړيکه ونيسئ او يوازې يوه طريقه وکاروئ. څومره ژر چې د درېيو دفترونو له ډلې يو ستاسو د جعلي فعاليت خبرتيا تاييد کړي، نور دفترونه هم خبرېږي ترڅو په خپلو ريکارډونو کې خبرتياوې ثبت کړي. تاسو به د تاييد ليکونه په پوسته خانه کې ترلاسه کړئ او بيا به وکولی شئ د خپلو کتنو لپاره ټول درې کريډيټ راپورونه وړيا ترلاسه کړئ. لومړنۍ د جعلي فعاليت خبرتيا به د يو کال لپاره پاتې شي.

مهرباني وکړئ په پام کې ونيسئ: ستاسو د کريډيټ راپور کې د جعلي فعاليت خبرتيا ثبتولو حق يوازې تاسو لرئ.

6. امنيتي کنګل.د امنيت د کنګل په وسيله هغه څوک چې ستاسو شخصي پيژندونکي معلومات په جعل سره ترلاسه کړي، نشي کولی د هغو معلوماتو په کارولو سره نوي حسابونه پرانيزي يا ستاسو په نوم پور واخلي. تاسو اړتيا لرئ چې د کنګل لپاره له پورته يادو شوو درېو ملي کريډيټ راپور ورکونکو دفترونو سره اړيکه ونيسئ. په پام کې ونيسئ چې کله تاسو امنيت کنګل وضع کړئ، تر هغې پورې نه شئ کولی پور واخلئ، سمدستي کريډيټ ترلاسه کړئ، يا نوی کريډيټ کارت ترلاسه کړئ ترڅو چې کنګل موقتي يا دايمي حذف نکړئ. د خپل کريډيټ فايلونو کنګل کول يا غير کنګل کول هيڅ لګښت نلري.

7. تاسو کولی شئ د هويت د غلا د مخنيوي لپاره د پورته ذکر شويو ادارو څخه د اخيستو وړ ګامونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. فدرالي سوداګريز کميسيون (FTC) هم هغه کسان هڅوي چې که ومومي چې معلومات يې په ناسم ډول کارول شوي، له دوی سره شکايت ثبت کړي.

د کالیفورنیا اوسېدونکي: د هویت د غلا په وړاندې د ساتنې لپاره د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د کالیفورنیا د محرمیت د ساتنې دفتر (www.oag.ca.gov/privacy) ته مراجعه وکړئ. د کالیفورنیا د ستر څارنوالۍ دفتر، 1300 I Street, Sacramento, CA 95814, د تلیفون شمېره: 18009525225.

د کینټکي اوسېدونکي: د کینټکي د ستري څارنوالۍ دفتر, 700 کېپیټل څلورلارې، سایټ 118 فرانکفورټ، کینټکي 40601, www.ag.ky.gov, تلیفون شمېره: 15026965300.

د مریلینډ اوسېدونکي: د مریلینډ د ستري څارنوالۍ دفتر, د مصرفوونکو د ساتنې څانګه 200 St. Paul Place Baltimore, MD 21202, https://oag.maryland.gov تلیفون شمېره: 18887430023.

د نیو میکسیکو اوسېدونکي: تاسو د عادلانه کریډېټ راپور ورکولو د قانون له مخې حقوق لرئ لکه د دې حق چې درته وویل شي که ستاسو د کریډېټ فایل معلومات ستاسو پر ضد کارول شوي وي، د دې حق چې پوه شئ ستاسو په کریډېټ فایل کې څه دي، د خپل کریډېټ سکور غوښتلو حق، او د نیمګړو یا ناسم معلوماتو په اړه د حل کولو حق. سربېره پردې، د عادلانه کریډېټ راپور ورکولو د قانون له مخې د مصرفوونکو راپور ورکونکي ادارې باید ناسم، نیمګړی یا نه تاییدېدونکی معلومات سم یا حذف کړي؛ د مصرفوونکو راپور ورکونکي ادارې نه شي کولی زاړه منفي معلوماتو راپور ورکړي؛ ستاسو د فایل لاسرسی محدود دی؛ تاسو باید اجازه ورکړئ چې کریډېټ راپورونه کارکوونکو ته وړاندې شي؛ تاسو کولی شئ د "له وړاندې کټل شویو" کریډېټ او بیمې وړاندیزونو محدودیت ولرئ چې ستاسو د کریډېټ راپور پر اساس درته درکول کېږي؛ او تاسو کولی شئ د سرغړونکي پر وړاندې تاوان غوښتنه وکړئ. کېدای شي تاسو د Fair Credit Reporting Act (د عادلانه کریډېټ راپور ورکولو قانون) له مخې نور اضافي حقونه هم ولرئ چې دلته لنډیز شوي نه دي. د هویت د غلا قربانیان او د فعال پوځ غړي د عادلانه کریډېټ راپور ورکولو د قانون له مخې ځانګړي اضافي حقوق لري. تاسو کولی شئ د عادلانه کریډېټ راپور ورکولو د قانون له مخې خپل حقوق د www.consumerfinance.gov/f/201504_cfpb_summary_your-rights-under-fcra.pdf له لارې وګورئ، یا Consumer Response Center, Room 130-A, Federal Trade Commission, 600 Pennsylvania Ave. N.W., Washington, D.C. 20580 ته په لیکلي بڼه مراجعه وکړئ.

د نیویارک اوسېدونکي: د ستري څارنوالۍ دفتر سره په لاندې پته او شمېرې اړیکه نیولی شئ: د ستري څارنوالۍ دفتر، The Capitol, Albany, NY 12224-0341 د تلیفون شمېره: 18007717755 https://ag.ny.gov/.

د جنوبي کارولینا اوسیدنکي:د جنوبي کارولینا د ستري څارنوالۍ دفتر، 9001 Mail Service Center Raleigh, NC 27699-9001, www.ncdoj.gov, د تلیفون شمېره: 19197166400

د اوریګون اوسیدنکي:د اوریګون د عدلیې ریاست 1162 Court Street NE, Salem, OR 97301-4096, www.doj.state.or.us/، د تلیفون شمېره: 18778779392

د روډ آیلند اوسیدنکي:د روډ آیلند د ستري څارنوالۍ دفتر، 150 South Main Street, Providence, Rhode Island 02903, www.riag.ri.gov, د تلیفون شمېره: 14012744400

د متحده ایالاتو ټول اوسیدونکي:د هویت د پاک کارۍ مرکز، د فیډرال تجارتي کمیسون، 600 Pennsylvania Avenue, NW Washington, DC 20580, https://consumer.ftc.gov, 1-877-IDTHEFT (438-4338), TTY (د اورېدو ستونزه لرونکو لپاره ټیلیفون): 1-866-653-4261.